لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتـون

مالي اداري چارو معاونیت

# تابش پوهنتون د صحي کلينيک

# د چارو د تنظيم تګلاره

کال: ۱۴۰۵


بسم الله الرحمن الرحيم

# د مطالبو فهرست

مقدمه ---------------------------------------------------------------------------------------------------------4
لومړی ماده: د تطبیق ساحه:------------------------------------------------------------------------------------- 4
دویمه ماده: د صحي کلینیک اساسي موخې : ---------------------------------------------------------------------------4
دریمه ماده: د ناروغان ثبت او داخلول: ---------------------------------------------------------------------------5
څلورمه ماده: بیړنې حالاتو مدیریت:-------------------------------------------------------------------------------------5
پنځمه ماده: روغتیایی کار کوونکو رول: ---------------------------------------------------------------------------5
شپږمه ماده: د درملو وسایلو مدیریت: ---------------------------------------------------------------------------6
اومه ماده: چاپیریال ساتنه:-------------------------------------------------------------------------------------------- 6
اتمه ماده: د کلینیک د ښه کارولو اصول: ---------------------------------------------------------------------------7
نهمه ماده: نهاي احکام : -------------------------------------------------------------------------------------------------7
لسمه ماده: د صحي کلینیک د تګلارې تائیدی او تصویب: -----------------------------------------------------7

## مقدمه

د پوهنتون د محصلینو، استادانو او کارکوونکو لپاره یو مهم روغتیايي مرکز دی چې د لومړنیو روغتیايي خدماتو، معاینې او مشورو زمینه برابروي. دا کلینیک د پوهنتون دننه د روغتیا د ساتنې او د ناروغیو د مخنیوي لپاره اساسي رول لري

په پوهنتون کې د زده کړې ترڅنګ د زده کوونکو روغتیا ساتل هم ډېر مهم دي، ځکه چې سالم زده کوونکي ښه زده کړه او فعالیت کولی شي. د همدې لپاره د پوهنتون صحی کلینیک د بېړنیو حالاتو، عامو ناروغیو، د لومړنیو مرستو، واکسین او روغتیايي پوهاوي په برخه کې خدمات وړاندې کو.

دا کلینیک نه یوازې د ناروغانو درملنه کوي، بلکې د حفظ الصحې، ذهني روغتیا، او د عامه روغتیا د پوهاوي پروګرامونو له لارې د سالم پوهنتوني چاپېریال په جوړولو کې هم مرسته کوي.

په ټوله کې، د پوهنتون صحی کلینیک د تحصیلي چاپېریال یوه مهمه برخه ده چې د زده کوونکو او کارکوونکو د روغتیا په ساتلو او د یوې سالمې او فعاله ټولنې په جوړولو کې بنسټیز رول لري

### لومړۍ ماده: د تطبیق ساحه:

د صحی کلینیک تګلاره چی د پوهنتون د اداری او مالی چارو معاونیت په چوکاټ کی ترتیب شوه او د پوهنتون د اداری کارمندانو، استادانو، خدماتی کارکوونکو، محصلینو او همدارنګه د پوهنتون په داخلی او بهرنی چاپیریال کی د تطبیق وړ ده.

### دویمه ماده: د صحي کلینیک اساسي موخې :

د پوهنتون د محصلینو او کار کوونک د روغتیا د ښه کولو، د ناروغیو د مخنیوي او د لومړنیو روغتیايي خدماتو د برابرولو لپاره جوړ شوی وي، د دې کلینیک مهمې موخې په لاندې ډول دي

1. د عامو ناروغیو معاینه او درملنه
2. د ټپیانو لومړنۍ مرستې
3. د ابتدايي او ضروري درملو برابرول
4. محصلینو او کار کوونکو ته د حفظ الصحې درس ورکول
5. د صحي ژوند ترویج
6. د ناروغیو په اړه معلومات ورکول
7. د عاجلو ناروغانو ژر درملنه
8. د لومړنیو مرستو برابرول
9. د لویو روغتونونو ته د اړتیا په صورت کې لیږد

### دریمه ماده: د ناروغان ثبت او داخلول:

۱) د ناروغانو ثبت او داخلول یو منظم سیستم دی چې هدف یې د ناروغ معلومات خوندي کول، ښه خدمات برابرول او د درملنې بهیر اسانه کول دي او دا په لاندې ډول دي:

1. د ناروغ نوم اخیستل
2. عمر او جنس ثبتول
3. د تلیفون نمبر او پته لیکل
4. د پېژندنې کارت یا فایل جوړول
5. هر ناروغ ته ځانګړی نمبر ورکول کېږي
6. د ناروغ طبي تاریخ (Medical History) ثبتېږي
7. د پخوانیو ناروغیو معلومات لیکل کېږي
8. د ناروغانو منظم مدیریت
9. د وخت سپما
10. د غلطیو کمښت
11. د ښه درملنې یقیني کول

۲) د ناروغانو ثبت او داخلولو منظم پروسه د دې لپاره ضروري ده چې هر ناروغ ته په وخت، دقیق او ښه روغتیايي خدمتونه برابر شي او د کلینیک کار اغېزمن شي

### څلورمه ماده: بیړنۍ حالاتو مدیریت:

1. د بیړنیو حالاتو مدیریت هغه منظم سیستم دی چې د خطرناکو او عاجلو ناروغانو لپاره ژر، دقیق او مؤثر روغتیايي خدمات برابر کړي
2. پدی وخت کې باید ناروغ ته پوره پاملرنه وشي ناروغ ارام پاتی شي تر څو د ویري له وجهی نورو حالاتو وضیت ته لاړ نشی
3. پدی حالت کې ناروغ ته د عاجل مرسته غوښتنه وشي او یا هم نورو شفاخانو ته انتقال شي.

### پنځمه ماده: روغتیایی کارکوونکو رول:

روغتیايي کارکوونکي د ناروغانو د ژوند ساتنې، درملنې او د عامه روغتیا د ښه کولو لپاره مهم رول لري او د زوغتیایی کار کوونکو رول په لاندی ډول دي

۱: ناروغانو حالت ارزول ( تشخصی کول او اولیه درملنه کول)

۲: ناروغ سره پاتی کیدل او د هغی حالت څارل

۳: د بیړنیو تیپو درملنه کول او وینه بندول

۴: د بی هوشه ناروغ مرسته کول او اولیه دندی اجرا کول

۵: صحی ژوند په اړه مشوري ورکول او د روغتیا په اړه محصلینو او کار کوونکو ته سیمینارونه دایرول

۶: د ناروغیو محنیوی لای چاری ښودل د واکسین په اړه مشوری ورکول او  واکسین اهمیت بیانول

۷: د ناروغ معلومات لیکل او د درملو تاریخ په پام کې نیول

۸:ناروغ روغتون ته د اړتیا په صورت کې لیږل

۹: د ناروغ ښه درملنی لپاره نورو روغتونو سره اړیکه ساتل

روغتیايي کارکوونکي د ټولنې د روغتیا ساتلو اساسي ستنې دي. هغوی د درملنې، پوهاوي، او بیړني خدماتو له لارې د خلکو ژوند ژغوري او سالمه ټولنه جوړو

## شپږمه ماده: د درملو وسایلو مدیریت:

د درملو او طبي وسایلو مدیریت یو مهم سیستم دی چې هدف یې د درملو سم استعمال، خوندي ساتنه او د وسایلو مؤثره کارول دي

چې د درملو د مدیریت پروسه په لاندی ډول دی

- **د درملو سم تنظیم او ذخیره کول:** د درملو سم تنظیم او ذخیره کول ډېر مهم کار دی، ځکه چې د ناروغانو خوندیتوب، د درملو کیفیت او د کلینیک منظم کار پرې تړلی وي درمل باید د نوم او ډول پر اساس باید ذخیره شی تر څو د درملو ځای د بیړنی حالاتو کې روښانه وی
- **د طبي وسایلو خوندي استعمال:** د طبی وسایلو خوندي استعمال ډېر مهم دی، ځکه چې دا د ناروغانو د خوندیتوب، د عفونت مخنیوي او د ښه درملنې لپاره اساسي رول لري چی پدی برخه کې چی کله یو طبی وسایل استعمالیږی مخکې د استعمال څخه لاسونه باید په صابون یا الکول  سره ومینځل شي
- **د کمښت او ضایع کېدو مخنیوی:** د درملو سم مدیریت ډېر مهم دی، څو درمل نه کم شي او نه بې‌ځایه ضایع شي. دا کار د ناروغانو د ښه درملنې او د کلینیک د منظم سیستم لپاره ضروري دی چی پدی برخه کې د اړتیا درمل مخکې د مخکې اټکل کیږی او د میاشتي راپور ترتیب کیږی
- **د ناروغانو لپاره د ښه خدمت. بر ابرول:** ناروغانو ته ښه خدمت برابرول د کلینیک تر ټولو مهم هدف دی. دا کار د درملنې کیفیت لوړوي، د ناروغانو اعتماد زیاتوي او د روغتیا سیستم اغېزمن کوي چې پدی برخه کې د ناروغانو سره ښه او نرمه چلند د ناروغانو ستونزه اوریدل او د ناروغ حالت په دوامداره توګه څارل دي

## اومه  ماده: چاپیریال ساتنه:

چاپیریال ساتنه د انسان د ژوند، روغتیا او طبیعت د ساتنې لپاره ډېر مهم اصل دی. چاپېریال ساتنه د دې لپاره ده چې هوا، اوبه، خاوره او طبیعي منابع پاک او خوندي وساتل شي.

چې پدی برخو کې د صحی کلینکی چاپیریال پاک ساتل په لاندی ډول سره تنظیم شوي دی

۱: د کلینیک ټولې برخې لکه انتظر خونه دفترونه او نور اړوند چاپیریال پاک وساتل شی تر څور د ور مکروبونه د باندی څخه داخل نشی

۲: د کلینیک ورځنی صفایی کول د کلینیک چاپیریال او باندی او دننه د کلنیک ته باید د صافیې پام وشي

۳: کثافات په مشخص ځای کې غوځول او یا هم د کثافاتو سوځول اړین دی

۴: د کار کار څخه وروسته لاسونه په صابون مینځل او  کلینیک دننه مناسب هوا ساتل تر څو درمل خراب نشي

۵: په کلینیک کې د خوشبوی وسایلو استعمال د لوګي او بد بوي مخنیوی وشي

۶: د پاکو اوبو استعمال او فاضله اوبو او هوا ککړتیا مخنیوی باید وشي

### اتمه ماده: د کلینیک د ښه کارولو اصول:

صحی کلینیک سم ډول کارول د دې لپاره مهم دي چې ناروغانو ته ښه خدمات وړکړل شي، نظم وساتل شي او د روغتیا کیفیت لوړ شي. چې پدی برحه کې د ناروغانو د نوبت مراعاتول بې نظمی مخنیوی کول د ناروغانو نظم انتظار سیستمو ترتیبول

د صحی کلینک سم کارولو اصول څخه مهم اصول چی درمل د داکترانو د هدایت مطابق استعمال کیدای شی تر څو هر ناروغ ته د تشخیص پر اساس درمل ورکول کیږی همدارنګه د صحی کلینیک د وسایلو ښه استعمال پوری اړه لری او د ناروغ د حالت د اړتیا په صورت کې نورو روغتونو سره اړیکه نیول دی

### نهمه ماده: نهاي احکام :

د محصلیو او کار کوونکو  د روغتیا ساتنې، د ناروغیو د مخنیوي او د لومړنیو روغتیايي خدماتو د برابرولو لپاره ډېر مهم مرکز دی. د کلینیک د فعالیتونو له لارې خلک په وخت معاینه کېږي، مناسب درمل ترلاسه کوي او د بیړنیو حالاتو په وخت کې مرسته ورسره کېږي، همدارنګه د صحی کلینیک د ټولنې د روغتیا په ښه کولو کې اساسي رول لري. که کلینیکونه منظم، پاک او په ښه سیستم سمبال وي، نو د ناروغیو کچه به کمه شي، د خلکو ژوند به ښه شي او یوه سالمه او فعاله ټولنه به رامنځته شي

### لسمه ماده: د صحي کلینیک د تګلارې تائیدی او تصویب:

صحی کلینیک د تګلاره د پوهنتون په علمي شورا (   ۳   ) د ۱۴۰۵ د جوزا میاشتی په (           ۱۹/۳/۱۴۰۵           )
نیته تائید او تصویب  شـو .

| ترتیب کوونکې | تائید کوونکې |
|---|---|
| مالي اداري چارو مرستیال | پوهنتون رئیس |